توان

دافغان معیوبینو هر اړخیز پروګرام خپرونه

لومړی کال دوهمه ګڼه | زمری (اسد) ۱۳۷۶ هجری شمسی | جولای ۱۹۹۷ میلادی

د CDAP او ملګرو ملتونو د پر مختیایي اداري "د غربت خاتمه او د افغاني ټولنې پیاورتیا" پروګرام

په افغانستان کې د پایداره سولې او ثبات لپاره د غربت له منځه وړل او په افغاني ټولنه کې د تفاهم او ښو روابطو لرل هغه دوه مهم اصلونه دي چې د ملګرو ملتونو پر مختیاي اداره (UNDP) ورته د راتلونکو دوو کلونو په پروګرام کې په خاص اهمیت قایله ده.

محترم لوستونکي به خبر وي چې د افغان معیوبینو هر اړخیز پروګرام (CDAP) په ۱۹۹۵ کال کې منځ ته راغلی چې دا په حقیقت کې د ملګرو ملتونو په چوکات کې د دوو موازي پروژو ادامه وه کومو چې په ۱۹۹۱ کې د معیوبینو د خدمت لپاره په افغانستان کې خپل کار پیل کړی و.

د ۱۹۹۷ کال د می په میاشت کې د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداري په خپل چوکاټ کې د غربت خاتمه او د افغاني جامعې تقویت پروګرام تر عنوان لاندې په یو بل نوښت لاس پوري کړ. ددی نوښت په چوکاټ کې د افغان معیوبینو هر اړخیز پروګرام په خپل وارسره په لاندنیو برخو کې خپل کار ته داسې ادامه ورکوي:

۱. د معیوبو وګړو تشخیص، بیارغونه، په اقتصادي لحاظ په خپلو پښو درونه او په اجتماعي لحاظ په خپله ټولنه کې د فعالو غړو په صفت ګډون. دا د CDAP عمده بخش هم بلل کیږي.

دي پروګرام د ۱۹۹۷ کال د اپریل تر میاشتې پوري د افغانستان په ٤٨ ولسوالیو کې خپل کار ته وسعت ورکړ، چې فعلاً په ٦٤ ولسوالیو کې ادامه لري.

۲. د معیوبینو څخه علاوه د ټولنې نورو بې وزلو او تجرید شوو ګروپونو لپاره خدمت کول.

په دې برخه کې د لومړي ځل لپاره CDAP د کوندو او یتیمانو لپاره د حرفوي زده کړو برابرول، قرضه ورکول، له اقتصادي لحاظه په پښو درول

پاتې په ۹ مخ کې

په دې ګڼه کې!

- د CDAP او ملګرو ملتونو د پر مختیایي اداري "د غربت خاتمه او د افغاني ټولنې پیاورتیا" پروګرام ص۱
  داکتر فاروق وردګ
- د CDAP د پروګرام پراختیا په جلال آباد کې ص۲
  حفیظ الله تراب
- قصهٔ ناصر جان ص۳
  ارسالی دفتر CDAP تخار
- په ټولنه کې د معیوبینو بیارغونه CBR، د هغه امکانات او محدودیتونه ص٤
- رهنمود عمل ص٦
  د داکتر وردګ د لیکلنې ژباړه
- د معیوب اسویلی ص۷
  قیام الدین وردګ
- زمونږ نظر ص۹
- د توان د جریدې چلوونکوته ص۱۰
  منګل احمدی
- شـــــــعر ص۱۰
  منګل احمدی
- نمو و انکشاف اطفال ..... ص ۱۱
  محمد زمان
- احوال توانمندي ص۱۲
  ارسالی دفتر CDAP بلخ

د CDAP د پروګرام پراختيا په جلال آباد کې

CDAP په تولنه کې د معیوبینو د بیارغونې پروګرام (CBR) د پراختیا او هغوي ته د برابرۍ وندې اخیستو لپاره کار کوي چې معیوبین خپل جسمانی او د ماغی استعدادونه د امکان تر سرحده پیاوړي کړي او له موجوده خدمتونو نه په ګټه اخیستلو سره پخپلو تولنو کې بشپړ ګډون تر لاسه کړی.

CDAP د خپلو توسعوی فعالیتونو په لړکې یو هم د ابرار د مؤسسې سره معیوبینو ته د ښو خدمتونو د برابرولو لپاره په دې ورستیو وختو کې د دغې مؤسسې د فعالیتونو په پراختیا کې مرسته کړي ده.

د دغې مؤسسې د لابنه پیژندلو لپاره د هغې د فعالیتونو په هکله یو څه په لاندې توګه بیانوو.

ابرار په پښو معیوبو کسانو ته د بیارغونې لپاره د بایسکل چلولو کتنځی (کلنیك)، پلاستیکي جراحی، د بایسکل تخنیك، د یتیمانو او سولې کور تشکیلوي.

د ابرار د مؤسسې په نوښت په پښو معیوبو کسانو ته د بایسکلّ چلولو یوه میاشتنی روزنه ورکول کیږي. دوي کولاي شي چې د بایسکل څخه پر نقلیه وسیلې سربیره د یوه ګرځنده دوکان په توګه هم استفاده وکړی.

دغې مؤسسې د ۱۹۹۲ کال د August د میاشتې څخه د ۱۹۹۷ د May تر میاشتې پورې ۱۳۰۹ په پښو معیوبو او پولیو ماشومانو ته چینایی او کوچنی سهراب بایسکلونه په ورېا توګه د روزنې وروسته ورکړي دي.

د معیوبینو د روحی او اقتصادي پیاورتیا او مسلکي کارونو د زده کړې په خاطر د ابرار مؤسسه هره میاشت یو شمیر معیوبین بایسکل د تخنیك د زده کړې په کورس کې روزی او د بایسکل د ترلو او تخنیك مکمل سامان هم ورکوی. په دې توګه یو ګڼ شمیر دغه معیوبین اوس پخپله د بایسکل د تخنیك دوکانونه لری او په کی کار کوی.

تفریحي مؤسسه ده چې د ټیرو شپږو کلونو راهیسې یې په بشپړه ایمانداري او اخلاص سره د خدمت چاري یې له کومه سیاسی، نژادي او سیمه ایز توپیره سرته رسولې دی. د نوموړې مؤسسې د فعالیتونو بیلا بیلې برخې د بایسکل د زده کړې، فزیوتراپی، د یتیمانو د مسلکی روزنې لپاره هم د بایسکل د تخنیك زده کړه د دریو میاشتو لپاره ورکول کیږي او یتیمان د بایسکل د تخنیك بشپړ سامان هم تر لاسه کولاي شی.

د سولې کور سره همکاري د ابرار د مؤسسې بله انسانی

همدردی ده چې هره میاشت "۹" تنه معیوب ماشومان د بایسکل د تخنیك په مسلکی زده کړه کی روزی.

د معیوبینو تر منځ د تفاهم د پیداکیدو او د روحی او نفسیاتی ارتقاء د پیاورتیا په خاطر، هر کال د بایسکل د ځغاستی سیالی (مسابقه) د افغانستان په سطح د نوموری مؤسسی لخوا برابریږی او ګټونکو ته ارزښتناکه انعامونه ورکول کیږی.

د CDAP اداره معیوبینو ته د لا ښو خدمتونو په سرته رسولو کی د ابرار مؤسسې ته لا زیات بریالیتوب غواړی.

قصهٔ ناصرجان

چهار سال قبل، کارمند ساحوی ولسوالی "فرخار" مربوط دفتر CDAP تخار غرض سروی قریه دشت الوان آن ولسوالی به آنجا رفته بود. در جریان سروی خانه به خانه به طفل معیوبی سرخورد واز فامیل خواهش نمود که از معیوب شان دیدن نماید و با آنها مجلسی داشته باشد. ابتداء کارمند ساحوی خود را برای آنها معرفی نموده و اهداف پروژه را مفصلاً توضیحات داد. بعدا از رئیس فامیل تقاضا بعمل آورد تا در بازتوانی طفل شان باوی همکاری نمایند و رئیس فامیل باجبین باز از وی استقبال نمودند واز سخنان کارمند مذکور خیلی خورسند شدند.

کارمند مذکور باخانه پری کردن فورمه های نمبر "۱" و نمبر "۲" کارش را شروع کرد واز رئیس فامیل خواست تا در موزد طفل شان، علت معیوبیت و مدت معیوبیت آن معلومات دهند. سپس رئیس فامیل که اسمش عبدالمجید پدر معیوب می شد با خونسردی جواب داد:

فرزندم ناصر جان "٦" سال عمر دارد. چند سال قبل تب شدیدی نمود، چون قریه ما از شهر فاصله زیادي داشت موفق نشدیم وی را به مرکز غرض تداوی ببریم بناً او را نزد یك داکتر محلی که در محل ما بود بردیم و داکتر صاحب او را پیچکاری نمود و بعداً او را به خانه آوردیم. ناصر جان را مادرش در آغوش گرفت و در بسترش خواباند و چند ساعتي به خواب رفت. وقتیکه از خواب بیدار شد من و مادرش سر بالین او رفتیم تا او را از جایش بلند نمائیم ناگهان متوجه شدیم که وی ایستاد شده نمی تواند و پاهایش حرکت ندارد. تلاش زیادي نمودیم نزد داکتر و ملا بردیم هیچ تأثیری نکرد به این ترتیب چند سال می شود که ناصر جان بدون اینکه کاری را انجام دهد روی رختخواب در گوشهٔ اطاق خوابیده و روز به روز پاهایش ضعیف می شود.

کارمند ساحه بعد از شنیدن حرف های پدر معیوب در بارهٔ چگونگی طفل ناتوان و بازتوانی آن پدر معیوب را دلداری داده واو را امید وار ساخت که انشاءالله پروګرامی را که در نظر دارد مؤثر بوده و در وضع طفل بهبودی خواهد آمد.

روز دیگر کارمند ساحوی با پدر معیوب، اعضای فامیل و اطرافیان آن مجلسی دایر نمود و تصمیم گرفت تایك نفر را به صفت مربی انتخاب نماید. برادر بزرگ معیوب که با سواد بود این مسئولیت را به عهده گرفت و مربی فامیلی انتخاب گردید. کارمند ساحه در باره تعلیم و تربیت افراد ناتوان مربی فامیلی را رهنمایی لازم کرد و کتابچه های منول WHO را که مربوط فرد معیوب می شد انتخاب و کار را شروع کرد.

هنګام شروع آموزش، طفل معیوب نمی توانست پاهایش را حرکت دهد و راه برود. با استفاده از کتابچه ها تمرینات اجراء

می گردید وهم طبق کتابچه "۱۳" کراچی گك، زانوبند و دیگر وسایل کمکی برایش ساخته شد. بعداز سپری شدن مدتی طفل معیوب توانست با استفاده از کراچی گك، زانو بند و غیره اینطرف و آنطرف برود حتی خارج از منزل در کوچه هم گشت و گذار نماید. کار به خوبی پیش می رفت "۳" سال قبل کارمند ساحوی تصمیم گرفت که با فامیل معیوب مشوره نماید واو را شامل مکتب بسازد و درین مورد رضایت فامیل معیوب را جلب نمود. سپس با مسئولین مکتب محل مجلسی دایر نمود و پیرامون شامل سازی اطفال معیوب و حق تعلیم و تربیه برای افراد معیوب بحث نموده و آنها را قانع ساخت. تا ناصر را شامل مکتب نمایند.

حالا که ناصر جان تقریباً ده ساله است، و دیگر در کنج خانه نیست، مانند اطفال سالم باوسایل کمکی مکتب می رود و با اطفال غیر معیوب بازی می کند و کارهایی که قبلا انجام داده نمی توانست خودش انجام می دهد. دیگر او تنها و فامیلش مأیوس نیست. پدر و مادر ناصر جان در حق کارمند ساحوی و پروژه معیوبین دعای خیر می نمایند.

والسلام.

په تولنه کې د معیوبینو بیارغونه CBR، د هغه امکانات او محدودیتونه

په تولنه کې د معیوبینو د بیارغوني (CBR) د پروګرام د امکاناتو او محدودیتونو په هکله زیاتي نظریې موجودي دي. دا نظریې په عمومي توګه د ځینو کسانو د تجمع او دافکاروله تبادلي وروسته چې عملاً په دي پروژو کې کار کوي او د معیوبو خلکو له تصورنه منځ ته راغلي دي، خو په تولو جوامعو کې به عین بڼه و نه لري. ځکه دا نظریې د وخت او شرایطو سره تغیر کولاي شي. د ځینو معیوبو خلکو نظریې د CBR په هکله په لاندي توګه بیان شوي دي.

د CBR مثبتې لاس ته راوړني او بریاوي:

- د ځان لپاره د کار په برابرولو کې یې مرسته کړي ده.
- پر ځان باور یا اعتماد یې منځ ته راوړي او پرنورو باندي د اتکاء او د ګدایی نه یې مخنیوي کړي دي.
- د تولني په چلند کې یې مثبت بدلون راوستي دي.
- وډي او انکشاف ته یې تحرك ورکړي دي.
- معیوبین یې دتولنیزي او اقتصادي وډي لپاره سره یو ځای کړي دي. پانګه لرونکي یې دي ته هڅولي دي چې د تولنیزو فعالیتونو نه ملاتړ وکړي.
- معیوبین یې په دې توانولي دي چې خپل استعدادونه په تولنه کې د عایداتي فعالیتونو په تر سره کولو کې شریك کړي.
- د مؤثري تکنالوجي او مهارتونو یه انتقال کې یې مرسته کړي ده.
- داپورتني خدمتونه یې هغو ځایونو ته رسیدلي دي چې نور پروګرامونه نه دی ورته رسیدلي.

د CBR محدودیتونه:

اکثر محدودیتونه د لوړي او سواد د عمومي سطحي د ټیټوالي له کبله منځ ته راځي. ددغو تکو په نظر کې نیولو سره، که چیري په سمه توګه پلان او تطبیق نه شي، نو د CBR نه زیات مشکلات هم رامنځ ته کیداي شي.

ځني دغه مشکلات په لاندي ډول دي.

- په یو ې تخنیکي پروژي بدلیدای شي چې تصمیم د لوړو مقاماتو له خوا نیول کیږي او ټیټو مقاماتو ته اوامر صادریږي (Top down). دا په دې معنې دی چې کولاي شو یو مشکل په انساني لحاظ نه بلکې له مسلکي لرلید څخه وویتو.
- د پروژي تحمیل پر معیوبینو (د تولني د مشرانو، مسلکي کسانو او یا پانګه والو لخوا) د دوي دفعال ګډون نه پرته.
- کیداي شي CBR د تولني الویت نه وي اوله نورو کم یا به منابعو سره رقابت وکړي. په دې توګه به د CBR د بقا مخه ونیول شي او په خطر کې به ولویږي.
- د CBR د اکثره پروګرامونو د توجه محور د ماشومانو په معیوبیت او د هغه په طبي موډل باندي دي. نوري جوړښتي برخې لکه حرفوی، تعلیمي او کار موندنه یې هیرې کړي دي.
- د یو ځای شوو ګروپو دننه بنایي په معیوبینو کې شك او بد ګماني موجوده وي چې معیوبین د نورو سالمو افرادو له خوا اداره او تري کار اخستل کیږي.
- د بودیجي او منابعو نشتوالي د CBR د پروژو تداوم ته ستونزي او خندونه پیښوي.
- مالي مرسته کوونکي منابع محلي منابعو او ابتکاراتو ته زیان رسولاي شي.
- هغه پروژي چې د سیاسي پروژو پر بنسټ جوړې شوي دي او د سیاسي ملاتړ د لاس ته راوړلو لپاره کار کوي کیداي شي پر CBR منفي اغیزه ولري.

- د نظم او انسجام مشکل چې د شخص، کورنۍ او ټولنې د همکارۍ له نشتوالي څخه منځ ته راځي.
- د قیمتي و سایلو د برابرولو مشکل، چې د معیوبینو د انضمام (ورګډولو) لپاره په هر اړخیزو پروژو کې ورته ضرورت دي.
- د نورو پروګرامونو د خدماتي کارکوونکو په واسطه د ټولنیزو خدماتو تکرارول.
- د CBR د ټولنیزو کارکوونکو رضاکارانو له خوا د نامناسبې روزنې او ناکافي تعداد له امله د پروژې کمزورې پر مخ بیول چې په کې کیفیت نه شته.
- CBR د ډیرو معیوبینو د انجمنونو له خوا یوه بهرنې مفکوره بلل کیږي او دغې مفکورې د CBR په منل کیدو کې مشکلات رامنځ ته کړي دي.

دعایداتي فعالیتونو لپاره زمینه برابرول چې په دې توګه CBR پروژه په خپله جاري وساتل شي.

- د داسې کومکي وسایلو برابرول چې په محل کې د تولید وړ وي پرته له دې چې د ټولنې منابع وربانديد مصرف شي.
- پخپل ځان اعتماد او پخپلو پښو دریدل د معیوبینو په واسطه، د پروژې په پلانولو کې یو مهم عنصر دي. نو له دې امله هغه وګړي چې شدیدي معیوبتیاوې لري هم باید په دې پرورژه کې شامل کړای شي.

د CBR د پروژې تطبیق او عملي کیدل باید د مثبتو سیاستونو او قوي قانوني میکانیزمونو ملاتړ له ځانه سره ولري. تر هغه ځایه چې ممکنه ده CBR باید د ټولنې پر منابعو بنا او ولاړه وي.



امکانات:

د محدودیتونو سره سره زیات شمیر خلکو دا منلې ده چې CBR یو کم مصرفه لاره او طریقه ده. دا طریقه کولای شي د معیوبو خلکو سره د یو مستقل ژوند زمینه د ټولنې د ساختار او منابعو په ملاتړ سره مساعده کړي.

د CBR د بریالي پر مخ بیولو فعالیت او توجیه لپاره دا لاندې ټګي باید په دغه پروګرام کې په نظر کې ونیول شي:

- د معیوبینو لپاره حرفوي زده کړه، او دآسانه قسطونو پور او بهرنۍ مرستې بشپړوونکي شمیرل کیږي.
- "هیڅ هم زمونږ نه پرته، زمونږ نه دي" (DPOS یاد معیوبینو انجمنونه).
- د معیوبینو هغه شعار چې وایي "(هغه څه چې زمونږ نه پرته سرته رسول کیږي، زمونږ نه دي)" باید تل په پام کې ونیول شي.
- د هر اړخیزو ستونزو په پام کې نیولو سره دمعیوبینو د پروګرامونو نه د طبي لیبل یا نښې مخنیوي کیدای شي.
- د معیوبو خلکو ضرورویات او د هغوي د علاقې وړ موضوعات دي په عمومي انکشافي پلانونو کې شامل کړای شي او په

ځانګړي توګه دي معامله نه شي.

- د حکومت برخه اخیستنه د معیوبینو په پروګرام کې ضروري ګڼل کیږي. هغه خدمتونه چې د ټولنې په سطح نه شي برابریدای باید چې د حکومت له خوا برابر شي.
- CBR یوه بیخي بهرني مفکوره نه، بلکې یوه طبیعي مفکوره ده چې د کار د نوعیت د ښه والي لپاره په عنعنوي لارو چارو عقیده لري. ضرورتونه باید د ټولنې له خوا اظهار او په ګوته کړای شي.

ومن الله التوفیق

****

رهنمود عمل

رهنمود هاي عمل در رابطه به بازتواني معیوبین توسط CBR میتواند نظر به شرایط، نوع فعالیت پروژه ها، مؤسسات و دستر سي به امکانات تغییر پذیر باشد. همچنان این رهنمود ها میتواند نسبی و اختیاری باشند.

رهنمود عمل که ذیلاً در رابطه به افراد معیوب، جامعه، حکومت و مؤسسات شرح گردیده از اثر تجارب کافی و فراوان بوجود آمده است و میتوان از ان منحیث خط مشی استفاده کرد.

الف: برای افرادیکه معیوبیت دارند انها باید:

- برای پیشرفت خویش خود را انسجام دهند.
- امکانات را با ذهن باز مطالعه نمایند.
- در مقابل تعصب و تبعیض مجادله نمایند.
- به حکومت بر سر اقتدار توصیه نمایند که قرار داد های WHO و ILO را قبوّل و تطبیق نماید.
- بلند بردن سطح آگاهی میان معیوبین و آنانیکه بدور پیش آنها قرار دارند برای ازبین بردن موانع بنیادی وروشی که در برابر وحدت آنان وجود دارد.
- فایق آمدن بر ترس وتعصب که آنها را به تجرید میکشاند.
- تأکید برای سمت دهی فعالیت های آنان که منحیث پروګرام های جداګانه پنداشته نشوند.
- تأکید برای پلان نمودن پروژه ها و پروګرام های دسته جمعی جهت تاسیس همبستګی و سیع عملی و بوجود آوردن شبکه های فعال ستراتیژی های کاری.

ب: برای جامعه:

جامعه باید:

- تشویق تحول ارتقایی را بخاطر تغییر دادن روش جامعه در برابر معیوبین. انضمام ویکجا سازی معیوبین را نه بمنظور تغییر محض، بلکی بخاطر ایجاد تغییر در محیط مطالبه نمایند. یکجا سازی باید به طور یك عمل دو جانبه متقابل صورت گیرد. معیوبین در بسا موارد میتوانند جامعه را یاری نمایند. به همین دلیل این موضوع یك پدیدهٔ یکطرفه نیست.

- کار بخاطر اشتراك فعال معیوبین تا انها خود را بخشی از اجتماع بدانند.
- خود را برای وحدت معیوبین و تلاش های متداوم انکشافی آنان آماده سازد.
- خود را برای تشکل اجتماعی آماده ساخته، و بر موانع طبیعی فعالانه فایق آمده آنرا تشخیص نماید.
- "مهارت های عملی" را میان افراد غیر معیوب تقویت نماید تا اینکه:

در مورد نیازمندی های افراد معیوب حساس باشد.

- به ندای معیوبین گوش فرانهند.
- در برابر نیاز مندیهای معیوبین حساس باشد.
- گوش به صدا برای شنیدن ندای کمك به معیوبین بوده و یا بپرسد در صورتیکه ضرورت باشد.
- از محافظه کاری بی لزوم اباورزد.
- امکانات د سترسی را در موارد ذیل فراهم سازد.

تصحیح بخش های فزیکی و معماری، سهولت های عامه از قبیل تشناب ها، دروازه ها و سویچ ها.

ج: در رابطه به حکومت

حکومت باید:

- فراهم آوری تسهیلات در سمت دهی شامل سازی معیوبین در مکاتب. طور مثال، در هندوستان قانونی وضع گردیده که هیچ مکتبی حق ندارد شمولیت شخص را در مکتب بخاطر معیوبیت وی رد نماید. رد نمودن شخص معیوب بخاطر این چنین دلیل برای حکومت کافی خواهد بود تا برسمیت شناختن مکتب مربوطه را از بین برده و بودیجه اش را قطع نماید.
- تهیهٔ پروگرام آموزشی که معیوبین را مجهز به مهارتهایی سازد که ذریعهٔ آن در جوامع خویش زنده گی ابرومندانه را به پیش ببرند و لازم بیاد آوریست که در صورت امکان، این آموزش یکجا با افراد غیر معیوب صورت گیرد.
- فراهم سازی تسهیلات برای بدست آوردن کمك های مناسب، تا معیوبین از آن مشاغل سودمندی در جوامع خویش بدست ارند.
- کار مؤسسات غیر دولتی را که در بخش CBR انجام داده اند تقدیر نموده و از تلاش های آنان پشتیبانی نماید. تا بدینوسیله این مؤسسات بطور مثال، قادر شوند و سایل و اسباب مورد نیاز معیوبین را باشرایط آسان وارد نمایند.
- کار های مؤسسات غیر دولتی را نظارت نموده ورهنمود های لازم تهیه نماید
- سیستم های خدمات راجع سازی را در شفاخانه های دولتی و کلنیك های محلی بقدر کافی تهیه بدارد.
- خدمات تمویلی را به پورژه های CBR معیوبین که در بخش های زراعت، مالداری و وغیره موجود است تهیه نماید.
- تهیهٔ خدمات توسعوی و مهارت های اداره و منجمنت برای معیوبین، تا آنها را در پیشبرد و ظایف شان قادر ساخته باشد.
- اعطاء صلاحیت به مقامات محلی از طریق تهیهٔ منابع مالی و قادر ساختن ارگانهای قانونی آنها، تا پیشبرد پروگرام های CBR را آسانتر سازد.

د: مؤسسات غیر دولتی که با معیوبین کارمیکنند:

آنها باید:

- در مقابل موضوعات مربوط به معیوبین در پروگرام های انکشافی شان حساس باشند.
- اشتراك فعال معیوبین را در پروژه های انکشافی یقینی سازند.
- نقش تسهیل آورنده و اختیاری را بازی نموده و نه نقش آمرانه را.
- در مورد از بین بردن ابتکارات محلی توسط دادن پول فراوان امیدهای نادرست را که بمیان می آورد محتاط باشند. برای هماهنگی دربست مؤسسات محلی و بین المللی باید قبل از آغاز یك پروژه CBR باهم مفاهمه نمایند. این مفاهمه باید به شکل دوامدار ادامه یابد.

د معیوب اسوپلی

لویه خدایه - لویه خدایه(ج)

شین پسرلي و. سهار وختي له کوره را بهر شوم، د لمر زرینې ورانګې د کروندو او د ښتونو په شنیلی کي داسي تاو را تاو غزیدلي وي لکه په شنه اطلس کي چې ګلاباتون اوبدل شوي وي، ساه ښنونکی ملایم نسیم چلیده. ریدې ګلونه، غوټې او نوره ګیاه داسې یوه خوا بله خوا اوښته را اوښته تا به ویل چې له ډیر هوس او مستی څخه څپې څپې او موړې موړې بهیږی، داسې غرمبهار یې کاوه لکه مست زمریان چې خپلوکي سره اخته وي، ها مخامخ پوښتې په لمن کې کاروان د منزل په لور نری نری روان وُ شرنګ شرنګ آوازې د فعالیت او تحرك الهام راوړو. شپونکي د خپلې شپیلی به ژبه رمې ته لارښوونه کوله، کراڅی (ماشومان) د کاروان په لیکو کې په ډیر شور او زور سره یې پروا روان وو، د تاکرو (د جوارو نینی) په چیچلو سره یې د کاروان یون (رفتار) بدرګه (بدرقه) کاوه. میږیانو د خپل غار په لور په ډیر خاص نظم سره قطار قطار دانې کشولې، غالبوزو په سرو ګلانو باندې غومبر جوړ کړی و، دا کښته دشته کې بزګر خپل لاس د قلبې په موتی ټینګ نیولی و په ډیر ذوق سره په لور آواز یې ویل: (کیله د خدای په هیله)

تخم په خاورو کې شیندمه درمند تري جوړه ومه
کندو پري ډکومه شمله جګه وهمه

لنده دا چې په هر څه به د سړی سترګې خښې شوې، نو ټول شیان په حرکت او فعالیت کې بریښیدل. د طبیعت اسراروته په چرت کې تللی وم چې نابیره مې زړه دردوونکی له ناسور څخه ډکې سلګۍ تر غوږو شوې، خو چې ها خوا مې وکتل نو دیوه لوی کمر ترځنګ مې تخمیناً په یوه پنځلس کلن هلک سترګې ونښتې، چې ورته ځیر شوم ومې لیدل چې یوه پښه یې د لاسه ورکړی وه، سینه یې له تودوتودو سلګیو ډکه وه، اوښکې یې لښتی لښتی پرمخ روانې وې له ډیرې پریشانۍ څخه یې وجود په لړزه و، په بنده بنده اونښتې دمه یې ویل:

لویه خدایه، لویه خدایه! آخر زه خوهم انسان یم، دا خو زما تقصیر نه دی چې د خپل بدن غړی مې نیمګړی دی او یا خومې د لاسه ورکړی دی، خدایه زما احساس، زما هیلې زما غیرت او زما انسانی حقوق خو له نورو څخه څه کمی نه لري. له ما څخه پرته ټول ژوې کار او فعالیت کوی، نباتات او جمادات ورته غذا، ښکلا او د ژوند وسایل تهیه کوی. هر څه په مثمر حرکت او فعالیت کې دی، دا یو زه یم چې نوروته لاس تر زنې ناست یم.

لویه خدایه(ج) دا زه دې ولې دومره نیمګړی او د ژوند له کړو وړو څخه بې برخې او بدبخت پیداکړی یم؟ تا(ج) او ستا پیغمبر(صل الله علیه وسلم) خو په ما غوندې انسانانو باندې د ترحم او له نورو سره زما په برابرو حقوقو باندې ټینګار کړی دی. لویه خدایه! نه تنها ستا په عظیم الشان کلام کې په بې وزلانو او ناتوانانو باندې د کومك او ترحم تاکید شوی دی بلکې ستا د بشری مخلوق لوی قانونی ارګان یعنې د ملګرو ملتونو سازمان او نورو بین المللی مؤسسو پام هم له اوږدې مودې څخه راپدیخوا د معیوبو کسانو د حقوقو د صیانت خواته اوښتی و، نو ځکه د معیو بینو د بین المللی کال ۱۹۸۱ په اوږدو کې زمور حقوقی جریان تربحث لاندې و نیول شو او په نتیجه کې د معیوبینو سره د هر اړخیزې مرستې د نړیوال پروګرام د غښتلی تحرك په اقداماتو باندې پریکړه صادره شوې ده.

د ملګرو ملتونو سازمان او نورو بین المللی مؤسساتو دواړو د سالمو افرادو سره د معیوبینو د حقوقو د برابروالی، او د ژوندانه د شرایطو د اصلاح کیدو په هکله د دوی د مساوي وندې په اخیستلو سره چې د اقتصادی او اجتماعی انکشاف په نتیجه کې منځ ته راځی بشپړ باور او یقین څرګند کړی دی.

لویه خدایه، لویه خدایه! که زمور روغ رمټ وروښه او ټول بشریت زمور د هر اړخیزو حقوقو او زمور د روزنې او پالنې خواته نور هم خپل پام را واړوي نو مور د وجود له غړو څخه بې برخې او ناتوانه انسانان پخپل وجود کې د سالمو کسانو په څیر ډیره زیاته انرژی او د کارکولو استعداد لرو. اوه زما همنوعانو! زمور د کارکولو له استعداد څخه د خپلې ټولنې په ټولنیزه او اقتصادی پراختیا کې ګټه واخلئ. مور د ماشین د هغو پرزو په څیر یو چې که د ماشین په مناسب ځای کې مونصب کړئ او ماشین مو په کار لګیا کړئ مور کولای شو ستاسو په مرسته خپلو فزیکی او دماغی استعدادونو ته داسې پراختیا ورکړو چې د خپلې ټولنې لازیات ټولنیز خدمتونه سرته ورسوو. او په ټولنیزو خدومتونو کې د خپلې ټولنې له نورو سره برابره وندې واخلو. آه وروڼو مور له تاسو څخه غواړو چې زمور د بیا رغونې په منظور مور ته له نورو سره په اندول حقوقو او زمور د ټولنیز یو ځای والی د مفکورې په هکله راسره مرسته وکړئ. زمور له لازیات معیوبیت څخه او د نورو سالمو اشخاصو د معیوبیت څخه د مخنیوی په خاطر لومړنی حفظ الصحی او د معیوبو ماشومانو ښوونځیو ته د شاملولو او د ځوانو معیوبینو لپاره د ښو اقتصادی امکاناتو د برابرولو په هکله خپل پام را وګرځوئ. په همدې توګه، که مور ته په ټولنه کې د ګډ ژوند زمینه مساعده شی نو مور کولای شو چې د ټولنې د غړیو په څیر د ټولو صحی او روغتیایې نعمتونو څخه برخه من شو، او په ټولو روزنیزو (تعلیمی)، ټولنیزو، کلتوري، مذهبی، اقتصادی او سیاسی فعالیتونو کې خپله بشپړه وندې په ښه توګه ادا کړو.

همنوعانو! زمور ارتیاوې تشخیص کړئ، او د هغو د رفع کولو په خاطر خپله آمادګی څرګنده کړئ او له ور منابعو څخه د هغوی په رفع کولو کې اقدام وکړئ تر څو په همدې توګه سره به مو له مور سره د ملاحظې ور مرسته کړي وی او خپله ټولنه به مو په پښو درولې وی.



زما وړاندې نظر

۱. یو تن معیوب په پښو درول په حقیقت کې د تولنې له اوږو څخه یو ستر پیتی اخیستل دی.

۲. د توانمندانو ملګرتیا ته خو هر څوک زړه ښه کوی، ډیر تکړه هغه دی چې ناتوانو ته لاس ورکړی.لکه چې وایي:

ره نیك مردان آزاده گیر
چو ایستاده ای دست افتاده گیر

* * *

رحمن بابا وایی:

هغه زړه به له توفانه په امان وي
چې کشتۍ غوندې د خلکو بار بردارشی

* * *

۳. که یو معیوب په ځان باور او قوي ایمان ولري تل به د نورو په سترګو کې د اعتماد او احترام وړ وي.

٤. خپل ناتوانه ورور او خور ته مه وایه چې ناتوانه یې، دا ورته ووایه چې ډیر څه د خپل ځان او نورو لپاره کولای شي.

۵. په نړۍ کې داسې نابینایان شته چې د ډیرو بینایانو د لارې مشعل ګرځیدلي دي.

٦. معیوبین د تولنې د ستر ماشین هغه زیانمن شوي پرزې دي چې بدلیدلوته نه، بلکې سمیدلوته اړتیا لري.

۷. په سم فکر او ښه روزنه د نیمګړي ذهن معیوبان روزل کیږي او په خپلو پښو درول کیږي.

♠ ♠ ♠ ♠ ♠

د (۱) مخ پاتې برخه

د CDAP اوملګرو ملتونو د پر مختیایې اداري پروګرام

او په خپلو جوامعو کې د هغوي فعالانه ګډون کول په نظر کې لري.دا پروګرام په ۲۳ هغو ولسوالیو کې چې د غربت د خاتمې اوافغاني جامعې د تقویت د نوښت لپاره انتخاب شوي دي، کار کوي.

۳. د هغو افغاني نوښتونو تقویه او ترغیب چې غواړي د غیر دولتي مؤسساتو په روانو پروګرامونو کې د معیوبینو د ګډون اراده ولري. په دې لړ کې CDAP مالي او تخنیکي مرستې ورکوي.

٤. د پورته ذکر شویو خدمتونو څخه د افغاني جامعې د تولو وګړو خبرول، د معیوبیت او د هغه تشخیص، د معیوبو وګړو بیارغونه، د معیوبیت څخه مخنیوي کول، په معیوبینو کې په خپل ځان اعتماد پیداکول او په غیر معیوبو وګړو کې د هغوي د منفي برخورد په هکله تنویري او معلوماتي پروګرام په خپلو ملي او وطني ژبوکي. دا پروګرام په ۱۹۹۷ کال کې پیل او تر اوسه پوري یې په کافي اندازه پیشرفت کړي دي.

د CDAP تول پروګرامونه د هغه خصوصیت په وجه چې لري یې (تول پروګرامونه په افغاني جامعه کې، د کلیو او باندې په سطح، د محلي افرادو به ذریعه د محلي منابعو څخه په استفادي سره پر مخ بیول کیږي د موجوده سیاسي او نظامي کشمکشونو په واسطه په خاص ډول نه دي متضرر شوي او په عادي بڼه دوام لري.

د توان د جريدې چلو ونکو ته!

السلام علیکم ورحمته الله و برکاته

ډیر خوشحاله یم چې د تاسو د محترمې ادارې له خوا ستاسو د نورو فعالیتونو تر څنګه د افغانستان د ځوریدلی اولس د معیوبو کسانو لپاره د توان وزینه جریده د لومړی ځل لپاره لولم او زه د خپل احساس پربنا دې ته وهڅیدم چې (د افغانستان په ټولنه کې د معیوبینو سره څۀ کیږی او څه باید وشي) تو عنوان لاندې یو وړوکی مضمون او د (ناتوانو د زړه اواز) تر عنوان لاندې یو شعر ولیکم که لازم مو وګڼل پس له اصلاح څخه یې نشر ته وسپارئ.

"د افغانستان په ټولنه کې د معیوبینو سره څه کیږی او څه باید وشی"

د افغانستان په اسلامی ټولنه کې د خلکو چال چلند، مهربانی او عاطفه د معیوبو او ناتوانو خلکو سره ډیره زیاته ده. په کلیو، باندو، لارو، کوڅو، بارارونو او موټرونو کې هر څوک خاصه توجه ورته لري مرسته او کومك ورسره کوي او دمرحمت په سترګه ورته ګوري.

اکثره ناتوان خلك د توان مندی اراده لري. هڅه او کوښښ کوی او لیدل کیږی چې ډیر تکړه کسبګر، مربیان، قاریان او حافظان د قران عظیم الشان، دوکانداران او نور د روزګار چلوونکی همدغه معیوب کسان دي چې د ځینو روغو او توان مندو خلکو څخه ډیر زیات فعالیت کولی شي او په جامعه کې له خاص حرمت څخه برخورداره دي. دوی باید و هڅول شی، مأیوس او نا امیده پری نه ښودل شی. دوی ته باید د یو راکد او غیر فعال عنصر په سترګو ونه کتل شی.

د معیوبینو والدین، خپلوان، جامعه او ټول خلك د دوی په حال رحم وکړی او د اخپل وړور، خور او هم نوع د الهی ارشاداتو سره سم په پښو ودروي څو په آینده کې د خپل ځان او ګران وطن لپاره د خدمتونو مصدر وګرځی. هر څوك او مربوطه اداري د ناتوانو کسانو د روا حاجتونو د پوره کولو لپاره باید هاند او هڅې وکړي او د دوې لاس نیوی وکړی او په دې لاره کې خپل مسؤلیت ادا کړی. ځکه کله چې معیوب وګړی په پښو ودریږی او وتوانیږی هغوی به په دې لاره کې نه یوازې د نورو د اوږو پیټی نه وی بلکې ټولنې ته به هم ښه خدمتونه وکړي.

شـــــــــــعـــــــــــر

دا روغ خلك چې وینم زړګی مې هوسیږی
په پښو دریدی نه شم سفر ته مې زړه کیږی
په سترګو مې تیاره ده رڼاورځ راباندې شپه ده
حافظ که د قرآن شم سورتونه مې زده کیږی
قلبه کولی نشم په ملا خم په لارې ځم
زړګی مې تجارت ته هسې شانې هوسیږی
په خوله باندې مې مهر د سکوت ایښی روزګار دی
په یو کسب که اخته شم روزګار به مې چلیږی
غیرت لرم امید لرم له بدو توبه ګاریم
له خواسته لرې تښتم تر څومې چې وس کیږی
نیازمند د لاس نیوی دی روغه وروره اوهم نوعه
"احمدی" باندې یې حق دی چې ناتوان په پښو دریږی

نمو وانکشاف اطفال

رشد و انکشاف شکل اساسي هر طفل است که از القاح شدن بیضه شروع تاسن بلوغ دوام دارد. به این ترتیب مطالعه کلان سالان را از اطفال جدا میسازد. اکثراً اصطلاحات نمو و انکشاف یکجا استعمال میشود در حالیکه هر دو اصطلاح دارای مفاهیم جداگانه است.

مقصد از نمو بزرگ شدن یا زیاد شدن، انساج یا کتله های بدن است مانند بزرگ شدن استخوان ها، زیاد شدن وزن، بلند شدن، قد و غیره.

- در حالیکه منظور از تکامل یا انکشاف پختگي و ظایف اعضاي بدن است که زیادتر با پخته گی سیستم عصبی ارتباط دارد. مثلا کنترول اواز، حرکت، حرف زدن و غیره.

- مامیتوانم که بشکل بسیار ساده آن به واسطه معلوم نمودن نمو و انکشاف طفل از حالت صحی طفل با خبر شویم. قبل از ارزیابی نمو و انکشاف باید فکتور های را بدانیم که بالای جریان نمو و انکشاف تاثیر دارند وعبارت اند از:

۱. **شکل فزیکی والدین:** هر گاه والدین (یایکی از آنها) قد بلند داشته باشد طفل آنها نیز قد بلند خواهد داشت ویا برعکس.

۲. **خصوصیات والدین:** به طور مثال از والدین ذکی اولاد های ذکی تولد شده میتوانند.

۳. **جنس:** اینطور تخمین میشود که بچه ها نسبت به دختران وزین تر میباشد.

٤. **حالت غذایی:** کمیت وکیفیت غذا هر دو قبل و بعد از تولد در نمو و انکشاف تأثیر دارد و بیشتر واقعات عقب ماندگی نمو به فکتور های غذایی ارتباط دارد.

۵. **مریضی:** اگر مادر در دوران حمل به کدام مریضی مزمن مانند تبرکلوز، تکلیف کِرده و امراض قلبی یا فشار بلند خون و غیره گرفتار باشد طفل وی ممکن کم وزن باشد و اگر بعد از تولد مادر مبتلا به کدام مرضی مزمن به طفل شیر خود را بدهد طفل مذکور خوب نمو نمیکند.

٦. **محیط:** هر گاه محیط فزیکی طفل مساعد نباشد مثلاً کمبود شعاع آفتاب، یا عدم حفظ الصحه باعث عقب ماندگی نمو آنها میشود. همچنان تعداد اطفال، ولادتهای پی درپی، غذای ناکافی و ماحول نامناسب اجتماعی نمو را متضرر میسازد.

قسمی که قبلاً گفته شد مقصد از انکشاف ارتقاء عصبی یا پختگی وظیفوی اعضاء میباشد. درین قسمت هم باید مانند نموی با جسمی ارزیابی شده و با انکشاف اطفال نورمال و سالم هم سن مقایسه شود.

مرحله انکشاف از طرف سر شروع و به طرف پاها ادامه دارد. یعنی اولاً کنترول سر و ساختمان ها نزدیك مانند چشم ها، گوشها به وجود میاید. بعداً کنترول قسمت ها دور بدن مانند کنترول ادرار و کنترول حرکت به وجود میاید. تاسن پنج سالگی تعین تکامل بعضی از قسمت ها قرار ذیل است.

۱. **در دورهٔ نوزادی:** طفل در حالت قبض بوده و سرخود را از یك طرف به طرف دیگر برده میتواند.

۲. **دوماهگی:** سر و سینه خود را بصورت درست استوار گرفته میتواند وچیز هایی که میگیرد به دهن خود می برد وبلند خنده میکند.

۳. **چهار ماهگی:** سر خود راکمي بلند گرفته میتواند و اشیا را تا "۱۸۰" درجه تعقیب میکند و کسی همرایش گپ بزند تبسم میکند.

٤. **هفت ماهگی:** به پهلو دور میخورد و برای مدت کوتاهی می نشیند و به اشیا خود را میرساند وصداهای چند سیلابه را میداند (یعنی صداهای مختلف تولید میکند). مادر خود را میشناسد.

۵. **ده ماهگی:** بدون کمك می نشیند، چارغوك میکند. اشیاء را باانگشت کلان و شهادت خود گرفته میتواند. اگر نامش گرفته شود عکس العمل نشان میدهد.

٦. **یك سالگی:** هر گاه از یك دست طفل گرفته شود راه رفته میتواند اشیاء را از زمین بلند کرده میتواند. چند کلمه گفته میتواند. با توپ بازی میکند و در یکنیم سالگی ضرورت آمدن ادرار خود را گفته میتواند.

۷. **دو سالگی:** استاد شده میتواند، دویده میتواند، درزینه ها بالاشده میتواند، دروازه را باز کرده میتواند، قاشق رابه دهن برده میتواند.

۸. **سه سالگی:** برای چند لحظه بالای یك پا استاد شده میتواند، از مکعب ها برج ساخته میتواند با ترای سیکل سواری میتواند، سن و جنس خود را میداند.

۹. **چهار سالگی:** توپ را بادست خود بلند انداخته میتواند، از زینه ها خوب بالا شده میتواند، با اطفال دیگر بازی کرده می تواند و سکه های ابتدایی را میشناسد.

۱۰. **پنج سالگی:** خیز انداخته میتواند. مثلث را کاپی کرده میتواند، نام چهار نوع رنگ را میشناسد. جملات کوچك را تکرا میتواند، لباس خود را کشیده و پوشیده میتواند و معنی کلمات را پرسیده میتواند.

نوت: چارت نمو *اطفال*. نمو اطفال توسط سانتی متر و کیلو گرام اندازه میشود که صرف در کلینك های صحی بطور درست انجام میشود.

احوال توانمندی؟

گلسیمه که ۱۶ سال عمر دارد باشندهٔ سرك حاجی کوت ولسوالی بلخ ولایت بلخ می باشد. موصوفه در طفولیت به اثر افتیدن در تندور معیوب گرید. معیوبیت گلسیمه مشکل حرکی بوده که پنجه های دست به هم چسپیده و حرکات دست وی به کُندی صورت میگیرفت. دو سال قبل هنگام سروی در ولسوالی بلخ از جانب مسؤلین پروگرام همهٔ جانبه معیوبین افغان (CDAP) شامل پروگرام بازتوانی گردید.



ابتدا به کلنیك فزیوتراپی معرفی گردید و بعداً با مساعدت پروگرام مذکور تحت عمل جراحی قرار گرفت. بعد از صحت یابی پروگرام بازتوانی با گلسیمه آغاز گردید. نخست یکی از اعضای فامیل او منحیث مربی فامیلی انتخاب گردید تا تمرینات را مطابق کتابچه های (CBR) اجرا نماید.

بعد از اتمام عملی پروگرام (CBR) گلسیمه توانست فعالیت های روزمره از قبیل خوردن غذا، پوشیدن لباس، حمام کردن، امورات منزل و بالاخره فعالیت های اجتماعی را به درستی و بدون کمك دیگران انجام دهد.

موصوفه قبل از بازتوانی علاقه مند آموزش حرفهٔ گلدوزی بود اما مشکلات حرکی دستهایش مانع آن گردید. بعد از ختم برنامه بازتوانی مدت شش ماه نزد استاد گلدوزی به شاگردی گماشته شد. گلسیمه با علاقه مندی و دلچسپی خاص که به این حرفه داشت توانست که در طول

این مدت همه مهارت های آنرا فراگیرد. بعد از ختم دوره آموزش، پروژه مواد و وسایل کار وی را تهیه نمود تا با این وسایل مستقلانه کار نموده با عاید ایکه از آن کمایی مینماید زندگی خود را پیش ببرد.

ما خواهان موفقیت های بیشتر و زندگی پر سعادت برای گلسیمه جان هستیم.

خپرونکی

د افغان معیوبینو هر اړخیز پروګرام (CDAP) دلیکنې د بورډ تر نظر لاندې.

پته: د ملګرو ملتونو له خوا د افغان معیوبینو هر اړخیز پروګرام.
ګل موهر لین C۱۷ پوسټ بکس ۷٤۰، یونیورسټي ټاون، پیښور.